# مور او پلار

## سره د ښیګړې کولو څه معنٰی ده؟

**28 May 2026**



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

پهٔ 28 مئي، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 11 ذو الـحج شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

قرآني بيان

پهٔ نوم

# مور او پلار سره د ښيګړې کولو څه معنٰی ده؟

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام بے مثاله تابعداري
- د عاجزۍ د وزر خوروِلو مطلب
- د تيږو نه خوښ عمل
- د مور او پلار څه حقونه

پيشکش
اَلْـمَـدِيْـنَـةُ الْعِلْـمِـيَـة
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ؕ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د صحابیِ رسول حضرت ابو سعید خدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے، فرمائي: کوم خلق چې په یو مجلس کښې کښیني خو په رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شریف وه نۀ لولي، که هغوئي جَنَّت ته داخِل هم شي، نو بیا به هم هُغه مجلس د هغوئي د پاره د ارمان سبب وي۔[1]

نامِ حضرت پہ لاکھ بار درود　　بے عدد اور بے شمار درود

ہم کو پڑھنا خدا نصیب کرے　　دم بدم اور بار بار درود

جو مُحِبِّ نبی ہے اے کافیؔ!　　چاہیے اُس کو بار بار درود[2]

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ...شعب الایمان، باب فی تعظیم النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم...الخ، جلد:2، صفحہ:215، حدیث:1571۔
[2] ...کافی کی نعت، صفحہ:38 ملتقطاً۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے- [(1)]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ◈ په اَدب به کښینم ◈ ښۀ په توجُّه به بیان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، نُخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!** صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د حضرت اِبراهیم او حضرت اِسماعیل علَیهِما السَّلام او د حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهَا د یاد مبارکې او مقدسې ورځې دي، یقیناً چې حج د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د یاد نه ډک دے ◈ کعبه شریفه هغوئي او د هغوئي شهزاده حضرت اِسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام جوړه کړې ◈ صَفَا مَروَه د حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهَا یاد دے چې هغې به د اوبو په لټون کښې دلته منډې وهلې ◈ په مِنیٰ کښې د حضرت اِسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام د قربانئ لازواله او بے مثاله واقعه رامخې ته شوه- داسې تقریباً د حج ټول مناسک د حضرت اِبراهیم او د حضرت اِسماعیل علَیهِما السَّلام یادونه دي ◈ دغه شان قرباني هم د دې دواړو انبیائے کرامو علَیهِما السَّلام یاد دے- کله چې هغوئي د خُوي بے مثاله او لازواله قرباني پیش کړه، د جَنَّت نه ګډ راولیږلے شو، په دغه وخت کښې **اللّٰه** پاک وفرمائیل:

[1] … بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

| [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او مونږ پهٔ وروستو خلقو کښې د هغهٔ تعریف باقي وساتلو- پهٔ اِبراهیم دې سلام وي- مونږ نیکي کوونکو ته هُم داسې بدله ورکوو- | وَ تَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ سَلٰمٌ عَلٰۤى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۱۰۹﴾ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ (پاره:23، سورهٔ صافات:110108) |
|---|---|

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا هُم د حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام ◈ د تابعدارئ ◈ د **الله** پاک سره د بے مثاله محبت ◈ د اِیثار او د قربانئ د جذبې بدله ده چې د هغوئي ذِکرِ خیر تل تر تله باقي وساتلے شو-

**الله** پاک دې د حضرت اِبراهیم او د حضرت اِسماعیل علَیہِما السَّلَام او د حضرت هاجره رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہا پهٔ وسیله زمونږ هم د نیکئ توفیق نصیب کړي، کاش چې مونږ پهٔ صحیح معنو کښې د **الله** پاک فرمانبرداره بندګان جوړ شو-اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

| اپنی الفت دل میں بسا دے | مولیٰ مجھ کو نیک بنا دے |
|---|---|
| یا اللہ! میری جھولی بھر دے (1) | بہرِ صفا اور بہرِ مروہ |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت اِسماعیل عَلَیْہِ السَّلَام بے مثاله تابعداري

پهٔ **بُخاري شریف** کښې حدیثِ پاک دے، زهٔ یې خُلاصةً (***In summary***) پهٔ خپلو

---

1 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:121-

الفاظو کښې عرض کووم- تاسو ته به معلومه وي چې د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام لا د پئيو څښلو عمر وو، چې هغوئي او د هغوئي مور بي بي حضرت هاجره رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا مکے مکرمې ته راغلي وو، حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام دلته لوئي شو، دلته د قبيله جُرهَم د يوې زنانه سره د هغوئي نِکاح وشوه-

حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام به کله نا کله د هغوئي سره د ميلاؤيدو د پاره تشريف راوړلو- پۀ بُخاري شريف کښې دي: يو ځل حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مکے مکرمې ته تشريف راوړلو، هغه وخت حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پۀ کور کښې موجود نۀ وو، د هغوئي کور وداني د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هر کلے اوکړو، هغوئي ترې پوښتنه اوکړه: اِسماعيل چرته دے؟ وه يـې وئيل: هغوئي د حلالې ګټې د پاره بهر تشريف وړے دے- حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پوښتنه اوکړه: ستاسو وخت څنګه تيريږي؟ د هغوئي کور وداني ووئيل: ډير خراب حالات دي، بس پۀ غريبۍ کښې ورځې شپې تيريږي- داسې هغې ګيلې معني اوکړې- حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د خپلې اِينګور د ګيلو اوريدو نه پس وفرمائيل: چې اِسماعيل راشي نو هغۀ ته زما سلام وايه او ورته ووايه:

**يُغَيِّرْعَتَبَةَ بَابِهِ**

ترجمه: د خپل کور چوکاټ(درشل) بدل کړه---!!

د دې وئيلو نه پس حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام شام ته واپس تشريف يوړلو- حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام چې کله واپس راغلو نو هغوئي ته پۀ کور کښې **دننه څۀ اشنا توب محسوس شو، نن پۀ هواګانو کښې څۀ اشنا خوشبوئي وه، د څۀ خاصو اَنوارو او تجلياتو رڼا وه-**

هغوئي د کور وداني نه پوښتنه اوکړه: نن څوک راغلي وو؟ وه يـې وئيل: آؤ جي! د داسې حُليې والا يو مشر تشريف راوړے وو- وه يـې فرمائيل: ستا د هغوئي سره څۀ خبرې

وشوې؟ کور ودانې يې تفصيل بيان کړو- حضرت اِسماعيل عَلَیْہِ السَّلَام وفرمائيل: هغه زما والدِ ذِيشان، د الله پاک خليل حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام وو او زما د کور چوکاټ تهٔ يې، هغوئي ستا د جدا کولو نصيحت فرمائيلے دے- پهٔ دې وئيلو سره هغوئي خپله کور ودانې پهٔ اِحترام سره د پلار کور ته وليږله-

څهٔ موده پس هغوئي د قبيله جُرهَم د يوې بلې زنانه حضرت رَعْلَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا سره نِکاح اوکړه-[1] يوه ورځ بيا هم داسې وشول: حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام تشريف راوړلو، حضرت اِسماعيل عَلَیْہِ السَّلَام نن هم پهٔ کور کښې موجود نهٔ وو، هغوئي د خپلې نوې اِينګور نه تپوس اوکړو: اِسماعيل چرته دے؟ عرض يې اوکړو: بهر يې تشريف وړے دے- وه يې فرمائيل: وخت مو څنګه تيريږي؟ عرض يې اوکړو: ډير خيريت دے (ښه پهٔ ښکلې ورځې شپې تيريږي)- وه يې فرمائيل: څهٔ خورئ؟ عرض يې اوکړو: غوښه- پوښتنه يې اوکړه: څښئ څهٔ؟ وه يې وئيل: اوبهٔ- هغوئي دُعا اوکړه او وه يې وئيل: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي اللَّحْمِ وَالْمَاءِ ترجمه: اے الله پاکه! د دوئي پهٔ غوښه او اوبو کښې برکت عطا کړې-

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: پهٔ هغه ورځو کښې به پهٔ مکه مکرمه کښې غله نهٔ وه، کنې حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام به د هغې د پاره هم دُعا کړې وه- نور يې وفرمائيل: دا د حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام د دُعا مبارکې اثر دے چې پهٔ مکه مکرمه کښې صرف پهٔ غوښه او اوبو باندې ګزاره کيدے شي، د دې نه علاوه چې چرته

---

[1]...عمدۃ القاری، کتاب احادیث الانبیاء، باب (یزفون) النسلان فی المشی، جلد:11، صفحہ:76، زیرِ حدیث:3364۔

هم پۀ غوښه او اوبو وخت تيرېږي نو د طبيعت مطابق سمون نۀ خوري-

خیر! حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د خپلي نوې اِینګور پۀ شُکر ګزارئ او پۀ ښه طبیعت ډیر خوشحاله شو او وه یـې فرمائیل: کله چې اِسماعیل راشي نو هغۀ ته زما سلام وایه او ورته ووایه: يُثْبِتُ عَتَبَةَ بَابِهِ ترجمه: د خپل کور چوکاټ(درشل) ثابت ساته--!!

د دې وئیلو نه پس حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام واپس تشریف یوړلو- کله چې حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام کور ته تشریف راوړلو نو نن بیا د هواګانو نه څۀ اشنا اشنا خوشبوئي راتلله، خاص قِسمه انوار او تجلیات وو- د کور وداني نه یـې پوښتنه اوکړه: نن څوک راغلي وو؟ عرض یـې اوکړو: آؤ جي! د داسې داسې شکل والا یو مشر تشریف راوړے وو- ډیر ښکلے وو، ډیر ښه طبیعت یـې وو- بیا یـې کور وداني ټوله واقعه بیان کړه- ټولي خبرې چې یـې واوریدلې نو حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائیل: هغه زما والِدِ محترم حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام وو، هغوئي حُکم کړے دے چې تا پۀ خپله نِکاح کښې پۀ برقراره وساتم--!![1]

د حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام هم دا کور وداني محترمه ده، د کومې د اولاد نه چې د ټولو جهانونو مالِک او مختیار، د نبیانو سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وِلادَتِ با سعادَت وشو، داسې د حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام هغه نیکې او شُکر ګزارې کور وداني محترمې ته د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نیا ابئ د جوړیدو سعادت نصیب شو-

---

1...بخاری، کتاب احادیث الانبیا، باب النسلان فی المشی، صفحہ:858-860، حدیث:3364 ملخصاً-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آيا نا شُکره ښځې له طلاق ورکول پکار دي---؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ بُخاري شريف کښې پهٔ بيان شوي دې واقعه کښې زمونږ د زدکړې د پاره ډيرې خبرې موجودې دي خو ورومبے يو ضروري وضاحت واورئ! د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ورومبۍ کور وداني چې نا شُکري اوکړه نو حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هٔغې کور وداني ته د طلاق ورکولو حُکم اوکړو- آيا د دې نه مونږ دا زده کولے شو چې د نا شُکرئ په وجه دې ښځې له طلاق ورکړے شي---؟ پهٔ توجه سره يې واورئ! د دې واقعې نه هيڅکله دا سبق نهٔ ميلاوېږي چې ناشکره ښځې له طلاق ورکول لازم دي بلکې د دې طلاق پهٔ حُکمت باندې ځان پوهه کړئ! پهٔ اصل کښې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ تندي مبارک کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور مبارک ايښودے شوے وو- **اللّٰه** پاک د هغوئي نه دا وعده اخستې وه چې د دې نُور د خاص حفاظت او عزت او تکريم د پاره به دا نُور د خپل وخت اعلیٰ ترينې او د نيکو نه نيکې زنانه ته منتقل کيږي-(1) [يعني مطلب دا چې د حضورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې شجرهٔ نَسَب هر بزرګ دې په نکاح کښې د هٔغه وخت د ټولو نه نيکه ښځه ساتي] هم دا وعده حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د خپل ځوي حضرت شيث عَلَيْهِ السَّلَام نه واخسته، بيا حضرت شيث عَلَيْهِ السَّلَام د خپل ځوي نه، داسې راتله او نسل پهٔ نسل دا وعده اخستے کيدله،(2) د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ

---

1... حجة الله علی العالمين، القسم الثانی، الباب الاول... الخ، صفحه: 162۔

2... المواهب اللدنيه، طهارة نسبه، جلد: 1، صفحه: 45۔

تندي مبارک کښې هم دا نُور مبارک ځليدو- د هغوئي ورومبۍ کور وداني د نا شُکرۍ طبيعت لرلو، ځکه هغه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نيا ابۍ د جوړيدو جوګه نۀ وه، ځکه حضرت اِبراهيم عَلَیْہِ السَّلَام هغې له د طلاق ورکولو او د يوې اعلیٰ ترين طبيعت والا، ډير د ښه طبيعت والا زنانه سره يـې د نِکاح کولو حُکم وفرمائيلو-

يعني دا چې کوم طلاق ورکړے شو، دا دې د پاره نۀ وو چې نا شکره ښځې له طلاق ورکول لازم دي بلکې دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور مبارک د تعظيم د پاره وو-

لهذا هيڅکله هم داسي نۀ دي کول پکار چې يوه ښځه د نا شُکره طبيعت والا وي نو هغې له دې طلاق ورکړے شي- مونږ له پکار دي چې پۀ کور کښې د نيکۍ دعوت ورکوو، پۀ مينه او محبت سره پوهه کول کوو، طلاق د مسئلې حل نۀ وي بلکې د يو طلاق غلط اثرات د ډيرو نسلونو پورې ځي او پۀ رشتو کښې ديوال جوړيږي- ځکه پۀ حديثِ پاک کښې اِرشاد دے: اَبْغَضُ الْحَلَالِ اِلَی اللہِ الطَّلَاقُ يعني د **اللّٰه** پاک پۀ نزد پۀ حلالو څيزونو کښې د ټولو نه نا خوښه څيز طلاق دے-

## پۀ دې کښې به خير وي

که چا ته پۀ کور کښې مشکلات وي، مثلاً ښځه يـې ډير تنګوي، ډير فرمائشونه کوي، هر وخت بس ګيلې معنې کوي نو د دې نه هم ويريدل نۀ دي پکار، پۀ صبر او زغم سره، پۀ پوهه کولو سره د وړاندې تللو او د رشتې قائم ساتلو کوشش کول پکار دي- **اللّٰه** پاک

په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ فَعَسٰۤى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْــٴًـا وَّ يَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا ﴿۱۹﴾ (پاره:4، سورۀ نساء:19)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: بيا كه هغوئي تاسو ته نا خوښه وي نو کيدے شي چې يو څيز تاسو ته نا خوښه وي او الله په هغې کښې ډير خير کيږدي-

په دې آيت کښې د ښځې په باره کښې وفرمائيلے شو چې که د بد اخلاقئ يا د بد رنګ والي په وجه ستاسو ښځه ستاسو خوښه نهٔ وي نو صبر کوئ او ښځې له په طلاق ورکولو کښې تادي مهٔ کوئ ځکه چې ممکنه ده چې **الله** پاک د دې ښځې نه تاسو ته داسې اولاد درکړي کوم چې نيک او فرمانبردار وي، د بوډا والي په بے آسرې کيدو کښې ستا ملاتړ جوړ شي-(1)

## په کور کښې د ښه ماحول جوړولو طريقه

وګورئ چې مونږ ته څومره ښکلے نصيحت شوے دے چې په طلاق ورکولو کښې تادي مهٔ کوئ! کيدے شي چې د دغې ښځې په ذريعه ستاسو ډير خيرونه نصيب شي- **الله** پاک دې مونږ ته په دې قرآني نصيحت باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

خُدائے دې نهٔ کړي که چرې د کور ماحول ښه نهٔ وي، په کور کښې جنګ جګړې وغيره کيږي نو د دې مسئلو يوه ښکلې نسخه عرض کووم، تجربه شرط ده، دا نسخه اِختيار

---

1... صراط الجنان، پاره:4، سورۂ نساء، زيرِ آيت:19، جلد:2، صفحه:186-187-

کړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! پۀ لږه موده کښې به د دې اثرات تاسو پخپله پۀ خپلو سترګو ووينئ- هٰغه نُسخه څۀ ده؟ پۀ خپل کور کښې د پردې د اِحتياطونو سره (مثلاً د مور او پلار د طرف نه د ترور د لوڼو، د ترۀ د لوڼو نه پۀ پرده کولو) ټول راجمع کړئ او د فيضانِ سُنَّت نه د درس ورکولو عادت جوړ کړئ!

روزانه دَرس ورکوئ! يو وخت مقرر کړئ! هٰغه وخت که څوک پۀ دَرس کښې شرکت کوي او که نۀ کوي، پۀ پابندئ سره درس ورکوئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! ډير زر به د ځان او د کور والؤ پۀ کردار کښې واضحه او مثبت بدلون پۀ نظر راتلل نصيب شي- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

## والِد صاحب يــې د خوشبويئ نه وپيژندلو

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ د حضرت اِبراهيم او د حضرت اِسماعيل عليهما السّلام تفصيلي واقعه واوريدله- پۀ دې واقعه کښې د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پۀ بے مثاله کردار باندې لږ غور اوکړئ! هغوئي پۀ کور کښې نۀ وو، والِد صاحب يعني حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړلو، د هغوئي سره ميلاؤ هم نۀ شو، د لرې نه يــې هم وه نۀ ليدلو، د دې باوجود چې کله هغوئي کور ته راغلو نو صرف پۀ هواګانو کښې د موجودې خوشبويئ نه يــې وپيژندلو چې نن والِدِ محترم تشريف راوړے وو- دا باقاعده پۀ بُخاري شريف کښې د حديثِ پاک الفاظ دي:

فَلَمَّا جَاءَ اِسْمَاعِيلُ كَاَنَّهُ آنَسَ شَيْئًا

کله چې حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام واپس تشريف راوړلو نو هغوئي (پۀ هواګانو، فضاګانو او

د کور په در او دیوال کښې) اشنا توب محسوس کړو-[(1)]

تاسو لږ د ځوي د خپل والِد صاحب سره جذباتي تعلق ته وګورئ چې ځومره د کمال تعلق دے، ځومره بے مثاله محبت دے، صرف په هواګانو کښې د موجودې خوشبويۍ نه يې د والِد صاحب راتلل وپيژندل-

افسوس چې اوس دلته حالات ډير خراب دي ◈ دلته خو مور او پلار په کور کښې موجود وي، د هغوئي سره کيناستل هم نۀ نصيب کيږي ◈ مور جانه ناروغه وي، ځوي ترې هډو خبريږي هم نۀ ◈ ټوله شپه يـې د بابا جان تبه وي، ډير تږخيږي، ځوي يـې **ښه بے غمه** اودۀ وي ◈ د مور او پلار بعضې وخت جامې نۀ وي، خواران يوه جوړه بيا بيا وينځي او اغوندي، ځامن ترې هډو خبريږي نۀ ◈ د مور جانې پيزار شليدلے وي، دا به هم مور جانه وائي نو هله به پته لګي، ګنې هډو خبريږي ترې نۀ- خطا خو خپله وي خو اوسني ځامن مور او پلار ته غصې کوي- تا ما ته ولې وه نۀ وئيل---؟ ستاسو پيسو ته ضرورت وو نو زما نه مو ولې وه نۀ غوښتلې---؟ تاسو ناروغه وې نو زۀ مو ولې نۀ خبرولم---؟

وروره---! لږ په سړو دماغو سوچ اوکړه! کله چې مونږ واړۀ وو، آيا د يخنۍ د راتلو نه مخکښې به زمونږ جامې نۀ تياريدلې؟ د ګرمۍ د راتلو نه مخکښې به زمونږ د پاره د ګرمۍ سامان نۀ اخستلے کيدو؟ هغه وخت چې مونږ ته پته هم نۀ وه چې اختر څۀ ته وائي؟ هغه وخت به هم د مور او پلار جامې وروستو جوړيدلې، زمونږ هغه به مخکښې تياريدلې، که

---

[1]... بخاری، کتاب احادیث الانبیا، باب النسلان فی المشی، صفحہ:859، حدیث:3364۔

مور او پلار به نوے پیزار اخستو او که نهٔ، زمونږ د پاره به د مځکښې نه راتللو- آیا مونږ ته به خپل ضرورتونه بیانول وو؟ آیا مونږ به هر څیز غوښتو--؟ نا--!! مونږ خو به مور او پلار ښځپله پوهه کولو چې څویه! یخني راغلې ده، اوس بوټان اچول دي، ګڼې نو ناروغه به شې- چې ګرمي به راتلله نو مونږ به یې پوهه کولو چې څویه! اوس ګرمي راغلې ده، په دې کښې دا دا اِحتیاطونه کول دي-

غرض دا چې مونږ د خپلو ضرورتونو نه هډو خبر نهٔ وو، زمونږ مور او پلار به خپل ارمانونه شاته کړل او زمونږ ضرورتونه به یې ښځپله پوره کول، نن هم په یو کور کښې د اوسیدو باوجود مونږ د مور او پلار د ضرورتونو نه خبر نهٔ یو--؟ اخر ولې--؟

## د عاجزۍ د وَزَر خوږولو مطلب

قرآنِ کریم وګورئ چې مونږ ته څهٔ حُکم راکوي، اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ<br>(پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل:24) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د هغوئي د پاره د زړهٔ په نرمۍ سره د عاجزۍ وزر خور کړه- |

اِمام فخر الدین رازي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د آیت د دې حصې معنیٰ بیانوي او فرمائي: دا حُکم څوي ته کولے شي، معنیٰ دا ده: د خپل مور او پلار پالنه پهٔ هُغه طریقه کوه لکه څنګه چې هغوئي ستا پهٔ وړوکوالي کښې ستا کړې وه-[1]

---

1... تفسیر رازی، پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل، زیرِ آیت:24، جلد:7، صفحہ:326۔

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه لکه څنګه چې به مور او پلار زمونږ په ماشومتوب کښې زمونږ د ضرورتونو اندازه ښځپله لګوله بلکې زمونږ د ضرورتونو څيزونه به يې د مخکښې نه راکول، اوس چې مور او پلار بوډا والي ته رسيدلي دي، زمونږ حق جوړيږي چې مونږ هم د خپل مور او پلار د وئيلو نه بغير د هغوئي د ټولو حاجتونو او خواهشاتو پوره کولو پوره کوشش کوو-

## د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د جَنَّت ملګرے

حضرت موسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام يو ځل د الله پاک په دربار کښې عرض اوکړو: اے کريم رَبَّه! ما ته زما د جَنَّت ملګرے وښائې- الله پاک وفرمائيل: فلانکي ښار ته لاړ شه، هلته فلانکے قصاب ستاسو د جَنَّت ملګرے دے- نو موسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام هلته د هُغه قصاب خوا له تشريف يوړلو، (په نا اشنا توب کښې د مسافر او د ميلمستيا په توګه) هغه حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته [د ډوډۍ ] دعوت ورکړو- کله چې ډوډۍ خوړلو ته کيناستل نو هغهٔ يوه غټه شکرۍ د ځان سره خوا کښې کيښودله، دوه نمړۍ به يې په هغې کښې اچولې او يوه به يې ښځپله خوړله- په دې کښې چا دروازه وډبوله، قصاب پاځيدو او بهر لاړو- موسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام چې هُغه شکرۍ ته وکتل نو په هغې کښې د ډير عمر يو سړے او يوه زنانه وه- موسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام چې يې وليدو نو هغوئي مُسکي شول، هغوئي د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د رسالت شهادت (يعنې ګواهي) ورکړه او هم هُغه وخت وفات شول- قصاب چې واپس راغلو او په شکرۍ کښې يې خپل مور او پلار وفات شوي وليدل نو په معامله باندې پوهه شو او د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام لاسونه يې ښکل کړل او عرض يې اوکړو: تاسو د الله پاک نبي حضرت موسیٰ کليمُ الله (عَلَيْهِ السَّلَام) ښکارئ- وه يې فرمائيل:

تاسو ته څنګه اندازه وشوه؟ عرض يــې اوکړو: زما مور او پلار به روزانه په ژړا ژړا دعاګانې کولې چې اے **الله** پاکه! زمونږ د حضرت موسیٰ کلیمُ الله (عَلَیْہِ السَّلَام) په جلوو کښې مرګ نصيب کړې- د هغوئي دواړو داسې د ناڅاپه وفات کيدو سره ما اندازه ولګوله چې هم تاسو به حضرت موسیٰ کلیمُ الله (عَلَیْہِ السَّلَام) يی- قصاب نور عرض اوکړو: زما مور به چې کله ډوډۍ خوړله نو خوشحاليدله به او زما د پاره به يــې داسې دُعا کوله: يا **الله** پاکه! زما ځوي په جَنَّت کښې د حضرت موسیٰ کلیمُ الله (عَلَیْہِ السَّلَام) ملګرے کړې- حضرت موسیٰ کلیمُ الله عَلَیْہِ السَّلَام وفرمائيل: مبارک شه چې **الله** پاک ته زما د جَنَّت ملګرے جوړ کړے يــې- [(1)]

سُبْحٰنَ الله! وګورئ چې قابل ځوي به په کوم ښکلي انداز کښې د خپل مور او پلار خدمت کولو، لکه څنګه چې به مور او پلار بچي له په خپلو لاسونو خوراک ورکولو، دې قابل ځوي به هم په هغه انداز کښې په خپلو لاسونو د مور او پلار په خُله کښې نمړۍ ورکولې- د دې کمالي تابعدارۍ او خدمت اِنعام ته هم وګورئ چې څهٔ میلاؤ شو، په جَنَّت کښې د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ګاؤند يــې نصيب شو- **الله** پاک دې زمونږ هم د مور او پلار د داسې خِدمت کولو توفيق نصيب کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د حضرت اِسماعيل عَلَیْہِ السَّلَام تابعداري

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت اِسماعيل عَلَیْہِ السَّلَام په واقعه باندې لګ نور غور

---

[1]... نزہۃ المجالس، باب بر الوالدین، صفحه:229۔

اوکړئ! حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړلو، د شهزاده سره د ميلاؤيدو نه بغير يې واپس تشريف يوړلو، صرف په غائبانه توګه يې پيغام ورسولو: يُغَيِّرْعَتَبَةَبَابِهٖ د خپلې دروازې چوکاټ(درشل) بدل کړه---!!

د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د تابعدارئ جذبې ته وګورئ چې څنګه وه، هغوئ د خپل والِد صاحب په دې غائبانه نصيحت باندې فوراً عمل اوکړو او کور وداني له يې طلاق ورکړو (ولې يې پرې طلاقه کړه، د دې وضاحت ما بيان کړے دے)-

## د مجازي عشق يوه تباهي

افسوس چې نن سبا ځوانان د ګناهونو نه د ډک عشقِ مجازي په ګرفت کښې راګيرېږي او مور او پلار خُلې له راولي (يعني ډير يې تنګوي) ◈ زۀ خو به هم د فلانکي سره وادۀ کووم، ګنې زهر به وخورم، داسې قِسمه دهړکې ورکړے کيږي ◈ ځوانان کورونه پريږدي او ځي ◈ مور او پلار نه ډير بليک ميل (***Blackmail***) کولے شي ◈ بعضې نادانه خو د کور نه تښتي او په پټه نِکاح کوي ◈ بلکې داسې خبرونه هم مخې ته راځي چې فلانکي له يې په خپله خوښه وادۀ نۀ کولو نو هغه په غصه کښې هم خپل مور او پلار ووژل---!!

افسوس چې څنګه نادانه اولاد دے کوم چې د عشقِ مجازي په پوره ګرفت کښې په راګيريدو داسې غلط حرکتونه کوي- **الله** پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي- د مور او پلار ډير لوئي شان دے- د هغوئي په هر حال کښې ادب کول دي-

## د اِيمان پهٔ معامله کښې هم نرمي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** تاسو د قرآنِ کريم پاک تعليمات وګورئ! حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ صحابیِ رسول دے، هغوئي چې کله کلمه ووئيله نو ډيره مشکلات ورته پيښ شو، هسې خو چې به پهٔ مکه مکرمه کښې څوک مسلمانيدو، هغوئي ته به ډير تکليفونه رسولے کيدل خو حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته يو بيل قِسم مشکل پيښ شو، د هغوئي مور بي بي هٰغه وخت مسلمانه نهٔ وه، هغې حضرت سعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته ووئيل: اے سعده! تهٔ به دا دِين پريښوديږدې ، که چرې تهٔ دا دِين نهٔ پريږدې نو زهٔ به خوراک څښاک پريږدم او د لوږې نه به مړه شم او خلق به تا ته **د مور قاتِل** وائي-

اوس وګورئ چې يو طرف ته مور ده او بل طرف ته هيڅ د دُنيا خواهش نهٔ دے بلکې اِيمان دے- پهٔ دې حالت کښې قرآنِ کريم هغوئي ته نصيحت اوکړو، حُکم وشو:

| | |
|---|---|
| فَلَا تُطِعۡهُمَا وَ صَاحِبۡهُمَا فِی الدُّنۡیَا مَعۡرُوۡفًا ۫ (پاره:21، سورهٔ لقمان:15) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو د هغوئي خبره مهٔ منه او پهٔ دُنيا کښې پهٔ ښه شان د هغوئي مرسته اوکړه- |

يعني اے سعده (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ)! د مور ضِد خو البته پوره کيدے نشي، د مور پهٔ وجه اِيمان پريښودل او د **الله** او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نافرماني خو هيڅکله مهٔ کوئ خو د دې دا مطلب هم نهٔ دے چې د اِيمان د پاره مور جانه ورټلے شي، پهٔ هغې غصه اوکړے شي، لوښي زمکې ته راويشتے شي- بلکې وه يې فرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَصَاحِبۡهُمَا فِی الدُّنۡیَا مَعۡرُوۡفًا ۫ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او پهٔ دُنيا کښې پهٔ ښه |

شان د هغوئي مرسته اوکړه- (پاره:21، سورۂ لقمان:15)

اګر که يو طرف ته اِيمان او بل طرف ته مور ده، په داسې حالت کښې اِيمان هم نهٔ دي پريښودل او د هغوئي بے ادبي هم نهٔ دي کول، د هغوئي ادب کول دي-(1)

اَللّٰهُ اَكْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د مور او پلار ادب دے- افسوس چې نن سبا خو مور او پلار ته کنځلې هم کوي، د هغوئي په مخکښې غصې کوي، د هغوئي په مخکښې ګوريږي، پشي شا هم په مور او پلار پسې خبرې کوي، د دوستانو سره په محفل کښې مور او پلار ته جلاد او پته نهٔ لګي چې څهٔ څهٔ وئيلے کيږي او د غيبت ګناهونه ګټلے کيږي- الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي- لکه څنګه چې نن په صدو پس مونږ د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د پاک سيرت نه سبق اخلو او قرباني کوو، د لکونو روپو څاروي اخلو او ذبح کوو يې، هم داسې د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د پاک سيرت نه د مور او پلار ادب کول هم زده کړئ! او نيکان او فرمانبرداره ځامن جوړ شئ!

## د ټولو نه ښه عمل

يو ځل يو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دربارِ رسالت کښې پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!

د ټولو نه د فضيلت والا عمل کوم يو دے؟ وه يې فرمائيل: اَلصَّلَاةُ عَلٰى وَقْتِهَا يعني نـمونځ په وخت باندې ادا کول- پوښتنه يې اوکړه: ثُمَّ اَيُّ؟ د دې نه پس کوم يو عمل ډير

1... تفسیر بغوی، پارہ:20، سورۂ عنکبوت، زیرِ آیت:8، جلد:3، صفحہ:463۔

خوښ دے؟ وه یـې فرمائیل: ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَیْنِ د دې نه پس د مور پلار سره ښیګړه کول د ټولو نه خوښ [عمل] دے۔ (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مور او پلار سره ښیګړه ډیر خوښ عمل دے۔ د چا مور او پلار چې ژوندي دي، یقین اوکړئ چې د هغوئي خو مزې دي، یو ګس وو، د هغهٔ نه څوک قتل شو۔ قتل ډیره لویه ګناه ده، پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائیلے شوي دي: چا چې یو کس قتل کړو، هغه ګویا ټول اِنسانیت قتل کړو، دومره سخته ګناه ده۔ د هٰغه ګس نه چې کله دا ګناه وشوه نو هغه ستومانه شو، بیا یـې سوچ اوکړو چې د توبې لاره به څهٔ وي؟ نو د مسئلې د پوښتنې د پاره د صحابیِ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما پهٔ خِدمت کښې حاضر شو، هغوئي ته یـې ټوله واقعه بیان کړه او وه یـې وئیل: عالي جاه! آیا زما د پاره توبه شته؟ هغوئي وفرمائیل: آیا ستاسو مور ژوندۍ ده؟ وه یـې وئیل: نه، هغه خو وفات شوې ده۔ وه یـې فرمائیل: ښه لاړ شه! توبه وکړه، څومره چې درنه کیدے شي د **الله** پاک د راضي کولو کوشش کوه!

د دې اوریدو نه پس هٰغه ګس لاړو، خلقو پوښتنه اوکړه: عالي جاه! د دې سوال جواب خو دا وو چې هغه توبه وکړي، بیا تاسو د مور پهٔ باره کښې پوښتنه ولې اوکړه؟ وه یـې فرمائیل: ځکه چې زما د معلوماتو مطابق د **الله** پاک د راضي کولو د ټولو نه نزدې ذریعه د مور سره ښیګړه کول دي (لهذا که د دهٔ مور ژوندۍ وے نو ما به وئیل چې د مور خِدمت کوه!

---

[1]... مسند ابو داؤد طیالسی، جلد:1، صفحه:289، حدیث:370۔

اللّٰه پاک به ستا ټول ګناهونه وبخښي)- (1)

## د مور او پلار يو څو حقونه

حققيت خو هم دا دے چې د مور او پلار حقونه پۀ يو حالت کښې هم نشي پوره کيدے، بهر حال! علمائے کرام فرمائي: يو څو خبرې دي، چې اِنسان پۀ دې باندې عمل اوکړي نو هغۀ ته به د مور او پلار سره ښيګړه کوونکے وئيلے شي: (2)

## (1): تابعداري او فرمانبرداري

ورومبے حق دے: پۀ شريعت کښې دننه د مور او پلار هره خبره منل-

يعنې د مور او پلار هره خبره منل دي، څۀ چې هغوئي وائي، فوراً پرې لبيک وئيل او د هغوئي پۀ حُکم باندې عمل کول دي- داسې ډير کارونه دي چې پۀ عامو حالاتو کښې د جائز حده پورې دي خو چې د مور او پلار حُکم راشي نو واجِب کيږي- مثلاً ◈ خوراک حلال دے، مباح دے، اِنسان يې که نۀ خوري نو هم پکښې ګناه نشته، که مور او پلار د خوړلو حُکم اوکړي، بيا به يې خوړل واجِب شي، که نۀ يې خوري نو ګنهګاريږي به (3) ◈ دغه شان پۀ بهارِ شريعت کښې دي: دا (يعنې ځوي) پۀ بهر ملک کښې دے، مور او پلار دے راغواړي نو دۀ ته به راتلل وي، خط (*Message*) ليکل کافي نۀ دي- دغه شان

---

1 ...الادب المفرد، باب بر الام، صفحه:14، حديث:4-

2 ...بر الوالدين لابن جوزی، ذکر المعقول فی بر الوالدين...الخ، صفحه:129 خلاصةً-

3 ...فتاوٰی رضويه، جلد:24، صفحه:557 ماخوذاً-

که مور او پلار ته د هغهٔ د خِدمت حاجت پیښ شي نو هغه دې راشي او د هغوئي خِدمت دې اوکړي۔ [1]

یعنې پهٔ دِین کښې د مور او پلار حُکم منلو له دومره اهمیت ورکړے شوے دے چې که څوي پهٔ بهر ملک کښې دے، مور او پلار ورته د راتللو حُکم اوکړي، بیا دا ضروري دي، هغه ته به راتلل وي۔

آؤ! د شریعت حُکم او د مور او پلار حُکم چې پهٔ مقابله کښې شي، یعنې د یو بل اُلټا وي نو پهٔ داسې حالت کښې به د شریعت خبره منلے کیږي، د مور او پلار به نهٔ منلے کیږي، مثلاً مور او پلار وائي: ◈ ږیره وخریه، دا حُکم د شریعت خلاف دے، ځکه به دا نهٔ منلے کیږي ◈ هم داسې الله پاک دې نهٔ کړي که مور او پلار د نـمونځ نه منع کړي، د فرض روژو نیولو نه یې منع کړي نو پهٔ داسې حالت کښې به د مور او پلار نهٔ بلکې د شریعت خبره منلے کیږي۔

## پهٔ ادب سره خواست کوئ!

خو دا خبره هم یاده ساتئ چې که مور او پلار د شریعت خلاف حُکم درکړي نو ◈ بیا د هغوئي سره جګړه کول نهٔ دي ◈ د هغوئي پهٔ مخکښې غصې کول نهٔ دي پکار◈ د هغوئي سره خبرې بندول نهٔ دي ◈ د هغوئي نه خفه کیدل او د کور نه تښتیدل نهٔ دي ◈ د خوراک څښاک هړتال او د هغوئي زړهٔ ازارول نهٔ دي بلکې پهٔ داسې حالت کښې هم د

[1]... بهارِ شریعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:559۔

هغوئي سره ښېګړه کول دي، مثلاً مور جانه وائي: ځويه! رېره وخريه! اوس ځوي له پهٔ ادب سره وئيل پکار دي: مور جانې! ستا حُکم پهٔ سر سترګو خو زهٔ رېره نشم خريلے، پهٔ دې کښې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناراضګي ده۔

◈ بيا که پهٔ دې باندې مور او پلار رټل کوي نو چپ شئ او ستغې سپورې يې واورئ ◈ که وهي مو نو ښه پهٔ قلار وهل وخورئ ◈ که خبرې درسره بندې کړي نو پهٔ دمه دمه، پهٔ حکمت سره، د کشر ترهٔ، مشر ترهٔ، ماما وغيره پهٔ مرسته د هغوئي د پخلا کولو کوشش اوکړئ، بے ادبي بهر حال نهٔ دي کول، پهٔ هر حال کښې د هغوئي سره ښه سلوک، ښه سلوک او هم ښه سلوک کول دي۔

## (2): د نفلي عبادت نه زيات اهميت ورکول

**د مور او پلار دويم حق دے:** د مور او پلار حُکم ته د نفلي عبادت نه زيات اهميت ورکول۔ (1)

مثلاً ◈ زړهٔ غواړي چې سبا به نفلي روژه نيسم، مور او پلار يې منع کړي نو د هغوئي خبره به منل وي ◈ زړهٔ غواړي چې اوس به نفلونه کووم، مور جانې چرته د تللو مثلاً د بازار نه سودا وغيره د راوړلو ووائي، اوس نفل وروستو اوکړئ، ورومبے د هغوئي حُکم وومنئ۔

---

[1]… بر الوالدین لابن جوزی، کیفیة بر الوالدین، صفحه:137۔

## د مور او پلار په رابللو کښې مهٔ ناوخته کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! که مور او پلار درته اواز اوکړي نو په جواب ورکولو کښې هيڅکله هم ناوخته کول نهٔ دي پکار، څينې خلق په دې کښې ډير د بے پرواهئ نه کار اخلي، مور ورته اوازونه کوي، دے په خپل کار کښې مشغول وي يا په موبائل (***Mobile***) کښې ګوتې وهي، د مور د اواز هډو جواب نهٔ ورکوي، څينې خلق خو ورومبي يو دوه اوازونه داسې کړي چې هډو اوريدلي يې نهٔ وي، چې کله مور په غصه کښې اواز اوکړي، نو بيا جواب ورکوي، دا ډيره د بے ادبئ خبره ده، کوم خلق چې د مور او پلار په اواز باندې هڅې بے هيڅه ځان نا غرضه کوي او د هغوئي زړهٔ ازاروي هغوئي سخت ګنهګاران او د وور د عذاب حقداران دي- مور اخر مور وي، بعضې وخت په غلط فهمئ کښې هم د هغې د خُلې نه ښيرې ووځي او که چرې د قبليدو وخت وي نو اولاد په ازميښت کښې پريوځي- **منقول دي** چې يو ګس ته د هغهٔ مور اواز اوکړو خو هغهٔ جواب ورنکړو په دې باندې د هغهٔ مور هغهٔ ته ښيرې اوکړې نو هغه ګونګے شو-[1]

## (3): په مور او پلار باندې خرچ کول

**د مور او پلار دريم حق دے:** په هغوئي باندې ښهٔ ډير خرچ کول-

مثلاً د هغوئي د خوراک څښاک ښه بهترين اِنتظام کول ◈ پيزار، جامې وغيره ورله اخستل او ورکول ◈ د خپل وَس مطابق ميوې وغيره پيش کول ◈ که ناروغه وي نو په ښهٔ

---

1... بِر الوالدّين للطرطُوشي، صفحه:79-

ډاکټر د هغوئي معائينه کول، دواياني وغيره ورله اخستل ◈ د خپل وَس مطابق هغوئي له د جيب خرچې په توګه پيسې ورکول چې هغوئي دا چرته غواړي وه يـې لګوي- غرض چې څومره کيدے شي په هغوئي باندې خپل مال لګول، د هغوئي په حقونو کښې شامِل دي- **په روايتونو کښې دي**: يو ګس به خپل پلار له خرچه نۀ ورکوله، د هغۀ پلار دربارِ رسالت کښې عرض اوکړو- په دې باندې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مبارکو سترګو کښې اوښکې راغلې او د جلال په حالت کښې يـې هُغه ګس ته وفرمائيل: اَنْتَ وَمَالُكَ لِاَبِيْكَ تۀ پخپله او ستا ټول مال هُم ستا د پلار دے- (1)

يقيناً چې مونږ دُنيا ته راغلي هم د هغوئي په ذريعه يو، نن چې څۀ دي، هم د مور او پلار د محنت نتيجه ده، ځکه زمونږ چې څۀ دي، په دې باندې د هغوئي حق دے،لهٰذا پکار دي چې څومره کيدے شي، په هغوئي باندې خرچ کوئ-

## د مور او پلار نور حقونه

4: د مور او پلار خواهشات او ارمانونه پوره کول هم د هغوئي په حقونو کښې دي- مثلاً ◈ د هغوئي د خوښې خوراکونه هغوئي له راوړل ◈ د خوښې څيزونه ورله راوړل ◈ که مور او پلار حج کول غواړي، ځوي يـې وَس لري نو په هغوئي باندې دې حج اوکړي ◈ که مور او پلار مدينه مُنَوَّره ليدل غواړي، ځوي دې کوشش اوکړي او مدينه مُنَوَّره دې ورته وښائي، داسې چې څومره کيدے شي، د مور او پلار جائز خواهشات دې پوره کړے شي،

[1]... ابن ماجه، كتاب التجارات، باب ما للرجل من مال ولده، صفحه:366، حديث:2291-

دا هم په حقونو کښې دي۔

دغه شان د مور او پلار نور حقونه دي: (5): د هغوئي په خِدمت کښې مبالغه کول، يعني ◈ ښه ډېر خدمت کول ◈ د هغوئي ښپې چاپي کول ◈ د هغوئي ضرورتونه په منډه منډه پوره کول ◈ د هغوئي په غم غمژن کيدل او په خوشحالئ يــې خوشحاليدل (6): د هغوئي په مخکښې په عاجزئ سره اوسيدل چې چرته د هغوئي بے ادبي وه نۀ شي (7): د هغوئي په مخکښې په تيز اواز خبرې نۀ کول (8): هغوئي ته په ترس نظر نۀ کتل (9): د هغوئي نه مخکښې نۀ تلل (10): هغوئي ته په نوم سره اواز نۀ کول (11): او د هغوئي د طرف نه چې کوم درد او تـکـليف ميلاؤيږي، په هغې باندې صبر، صبر او بس هم صبر کول۔ دا ټول د مور او پلار حقونه دي۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې نه علاوه په مونږ باندې د مور او پلار کوم کوم حقونه لازم دي مونږ له د دې معلومات پکار دي۔ د اعلٰی حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه ډېره ښکلې رساله ده: اَلْحُقُوقُ لِطَرْحِ الْعُقُوقِ۔ مکـتـبة الـمدينه دا اسانه کړې ده او د والدين،زوجين اور اساتذہ کے حقوق په نوم باندې يــې چاپ کړې ده۔ دا رساله د مکـتـبة الـمدينه د يوې څانګې نه په 115 روپۍ په بيعه واخلئ۔ دغه شان د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډېره ښکلې رساله سمندری گنبد، په 30 روپۍ په بيعه واخلئ يا يــې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ (***www.dawateislami.net***) نه فري ډاؤن لوډ کړئ۔

دا دواړه رسالې د مور او پلار د حقونو د معلوماتو د پاره ډېرې فائده مندې دي مونږ

له هم دا ضرور لوستل پکار دي- **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د مور او پلار د حقونو د ادا کولو او ټول عمر د هغوئي د شُکر ګزار اوسیدو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اِسلامي د یوې شعبې تعارف: المَدینةُ العلمیه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دعوتِ اِسلامي، د عاشقانِ رسول عالمي تنظیم دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د ډیرو شعبو په ذریعه د قرآن او سُنَّت خدمت، او د اُمت د خیر ښیګړې او عِلمِ دِین ته د ودې ورکولو په خِدمت کښې وړاندې وړاندې دے- په دغه شعبو کښې یوه شعبه المَدینةُ العلمیه (اسلامک ریسرچ سنټر ***Islamic Research Center***) هم دے-

د دې شعبې: په 2 څانګو (***Branches***)، په 30 ذِیلي شعبو ( ***sub-sectors***) کښې قریباً د 126 علمائے کرام د لیکلو، ترجمې او د تحقیق وغیره کار او مسلمانانو ته د صحیح اِسلامي لټریچر (***Literature***) رسولو کښې مصروف دي-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د یوې اندازې مطابق د قرآنِ او د حدیث، او د دِیني معلوماتو د ډیر ښه، ښکلي او ښائسته ټائټلو سره دې ادارې تر اوسه پورې تقریباً 2108 کتابونه او رسالې چاپ کړې یا ویب ایډیشن (***Web edition***) ورکړې دي- تاسو د المَدینةُ العلمیه ټول کتابونه د مکتبة المدینه نه په هارډ کاپي (***Hard copy***) کښې یا د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ (***www.dawateislami.net***) په ذریعه په سافټ کاپي (***Soft copy***) کښې ترلاسه کولے

شئ- **اللّٰه** پاک دې د دعوتِ اِسلامي دا تحريري او تصنيفي شعبه د بدو سترګو وساتي- اٰمِيۡنۡ

بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

## الـمدينه آن لائن لائبريري

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ ورځ په ورځ مونږ ته د عِلمِ دين زده کولو اسانو ذريعو را کولو کښې مَصرُوف دے- د سوؤنو کتابونو او رِسالو **الـمدينه آن لائن لائبريري** کومه چې مخکښې صرف په ډيسک ټاپ ورژن (***Desktop version***) کښې وه، اوس ويب ورژن (***Web version***) کښې لائيو (***Live***) کړے شوې ده- په **الـمدينه آن لائن لائبريرۍ** کښې د مکـتبة الـمدينه مختلف موضوعات (مثلاً قرآن او سُنّت، عقائدِ اسلام، فقه او فتاوىٰ، اسلامي تعليمات، اخلاق او آداب، سيرتِ رسولِ عربي، سيرتِ اُمهاتُ المُؤمنين، سِيرتِ صحابه و صحابيات، سيرتِ اوليائے کرام، سيرتِ اميرِ اهلسُنت، ملفوظاتِ اميرِ اهلسُنت او فيضانِ مدني مذاکره، اوراد او وَظائف او نعتيه کلامونه وغيره) باندې مشتمل کتابونه او رِسالې موجودې دي- د **الـمدينه آن لائن لائبريرۍ** نه د فائدې ترلاسه کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ويب سائټ ***www.dawateislami.net/bookslibrary*** ته لاړ شئ او نورو له هم ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

◈ د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِيَه په **مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره**

کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نمونځ نه پس تقربیا پهٔ 9:30 بجې اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پهٔ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د یوې دیني رسالې لوستلو ترغیب ورکوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د منهاج العابدین نه 38 مدني ګلونه (قسط: 1)** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر کړي! ◈ هره میاشت په ماهنامه فیضانِ مدینه کښې د مرکزي مجلسِ شوریٰ د نګران مولانا حاجي عمران عطاري یو نهایت فکر انګیز او بصیرت تازه کوونکے مضمون د **فریاد** په نوم جاري کیږي. مکتبةُ الْمدینه دا مضمونونه د کتاب په شکل کښې چاپ کوي. داسې به دا مضامین په یو ځائے کښې د لوستلو د پاره تر لاسه کیدے شي. دا کتاب د مکتبةُ الْمدینه د هرې یوې څانګې نه په 380 روپۍ بیعه اخستے شئ، پخپله یې هم ولولئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بیان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ

اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د ګل او د زیارت د ورځې روژه د خوږ مصطفٰے ﷺ سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د ګل او د زیارت د ورځې روژه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت مبارک دي- د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: زما سرتاج، صاحبِ معراج صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ګل او د زيارت روژې پۀ اهتمام سره نيولې- (2)

مونږ له هم پکار دي چې که چرې صحت اِجازت راکړي نو د ګل او د زيارت د ورځې د روژې بندوبست اوکړو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! پۀ سُنَّت باندې د عمل کولو سره سره به مو ډير برکتونه نصيب شي- **خو ياد ساتئ!** ◈ که د نفلي روژو پۀ وجه پۀ کار روزګار کښې ناراستي راځي نو د روژې د نيولو اجازت نشته ◈ چرته چې هم د نفلي روژې پۀ وجه پۀ څۀ افضل کار کښې څۀ خنډ [يعني رکاوټ] جوړيږي هلته دې روژه نۀ نيولے کيږي (مثلاً د يو اِسلامي ورور ذمه واري داسې ده چرته چې د اولس سره ډيره واسطه راځي او د روژې نيولو پۀ وجه د هغۀ پۀ طبيعت کښې تريخ والے پيدا کيږي اګر چې کار پوره کيږي خو د خلقو سره د بد اخلاقۍ نه بچ کيدل د نفلي روژو پۀ مقابله کښې ډير ضروري دي) ◈ مور او پلار که چرې

---

1 ...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

2 ...ترمذی، کتاب الصوم، باب ماجاء فی صوم یوم الاثنین...الخ، صفحہ: 208، حدیث:746۔

ځوي د نفلي روژې نه ځکه منع کوي چې د هغۀ د ناروغه کیدو ویره ده نو د مور او پلار تابعداري دې اوکړے شي ◈ د خاوند د اِجازت نه بغیر ښځه نفلي روژه نشي نیولے- (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنتیں سیکھنے تین دن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګاني

﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ

الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

---

1... اعرابی کے سوالات، صفحہ: 110، 111 ملتقطاً۔

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت پهٔ مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. (1) راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي. (2) راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پهٔ هغهٔ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. (3) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

---

1... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:151، خلاصةً۔

2... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:65۔

3... قَوْلُ البَدِيْع، باب ثاني، صفحه:277۔

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې پهٔ شريکه يې ووائيو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مينځه کښينولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم حيران شو چې دا څوک اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې يې لوَلي.[2] راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

---

1...اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

2...قَوْلُ البَدِیْع، باب اَوّل، صفحه:125۔

3...الترغیب والترہیب، کِتَابُ الذِّکر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔

## ﴾1﴿ د یو زر [1000] ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما نه رِوایت دے چې مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د یو زر [1000] ورځو پورې نیکۍ لیکي.[1] راځئ چې مونږ یـې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر یـې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغهٔ چې شبِ قدر حاصل کړو-[2] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شریکه ووائیو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هیڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

2...تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415